مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۶/۰۹/۱۱

# په هديره کې قتل

له کوره مو لږ وړاندې د سړک تر غاړې دکان و. دې کې به یا یو سپین ږیری، چې موږ مهاجرو به حاجي صیب باله، ولاړ و او یا د هغه ځوان زوی افتخار.

دوی دواړو پنجابیانو داسې روانه پښتو ويله لکه همدا چې يې مورنۍ ژبه وي او دا ځکه چې ټول مشتريان يې پښتانه کېدوال ول.

په هغه شنه سهار چې سودا پسې ووتلم؛ نو دا هټۍ لا نه وه پرانېستل شوې. مخکې لاړم . دلته یو زیارت و؛ خدای خبر کوم پنجابی پکې پروت و؛ خو مهاجرو سمدستي بابا باله.

زیارت کې د بېرې ستره ونه ولاړه وه او نامراده پېغلو او مېرمنو يې ټيټو ښاخونو پسې خپل مرادونه په شنو او سرو ټوټو تړلي وو.

د زیارت شاوخوا هدیره وه چې څو محدود قبرونه د پنجابیانو ول او نور زموږ د جلا وطنو.

په هغه سهار چې له دې هديرې تېرېدلم؛ يو تازه جوړ شوي قبر ته دوه زلميان ناست ول او د مړي د اروا خوشالولو لپاره يې تلاوت کاوه.

زه، له هديرې وړاندې بازارګي کې وم چې د ډزو غږونه شول. سودا مې وکړه او پر بايسکل مې پښه واړوله. هديره کې خلک راټول ول. هماغه زلميان پر قبر نسکور پراته ول، وينه ترې روانه وه او له غېږو يې قرانکريمونه غورځېدلي ول.

دې صحنې سخت ووېرولم. تر ډېره به که چا د خونې دروازه هم په زوره بنده کړه؛ ما به ويل که چا ډز وکړ او څوک يې وويشته.

دې پېښې شاوخوا پنجابيان هم ډار کړي ول. تر ډېره همدا پېښه د مجلسونو کيسه وه.

پنجابيانو به ويل: مهاجر ډېر خطرناک خلک دي، ډېر ظالمان دي. آن هديره کې قتل کوي.

رښتيا هم؛

موږ ډېر خطرناک خلک يوو، ډېر ظالمان يوو، په رڼا ورځ په ډک بازار کې هم قتل کوو....

ای خلکو!

قتل مکوئ. قتل عظيمه ګناه ده؛ داسې عظيمه چې الله ج ورته درندې سزاوې ټاکلي:

وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا

شايد،

دلته د شناخت، موقف، زور په ذريعه له سزا څوک بچ شئ؛ خو موږ يوه بله دنيا هم لرو. داسې دنيا چې عدالت به حاکم وي او د اعمالو له مخې به پرېکړې کېږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ